د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

د افغانستان د پاره نوې کیدونکې انرژي – د پایښتونکې انرژۍ اونۍ همدا اوس

کابل، د ۱۳۹۶ کال د غویی د میاشتې ۱۹مه نیټه – د افغانستان د پایښتونکې انرژۍ اونۍ (ASEW 2017) د مې د میاشتې د ۸ مې نه تر ۱۱مې نیټې پورې په کابل کې ترسره کیږي. د دغه کمپیاین موخه داده چې د "انرژۍ د اغیزمنتیا" او د "نوې کیدونکې انرژۍ" په باب د خلکو د پوهاوي کچه لوړه کړي. د انرژۍ او اوبو وزارت د روان کال د افغانستان د پایښتونکې انرژۍ اونۍ تنظیموي چې د افغان-المان د همکارۍ پروګرام په افغانستان کې د انرژۍ د نهادي پراختیا (IDEA) تر عنوان لاندې د هغې نه ملاتړ کوي.

اجرائیه رئیس ښاغلي ډاکټر عبدالله عبدالله د اونۍ د پرانیستلو په مهال داسې وویل: "برښنا د امنیت، پوهنې، روغتیا، ترانسپورت، بیخبنا او اقتصادي پراختیا بنسټ جوړوي. افغانستان د نوې کیدونکي انرژۍ زیات پوتنسیال لري او کولای شي حتی هغه نورو هیوادونو ته صادره کړي. ترڅو مونږ د هغې په کارولو توانیږو، باید انرژي سپما کړو او په اغیزمنه او هوښیاره توګه د هغې نه ګټه واخلو: نه یوازې د روښانه کولو، پخولو او ګرمولو بلکه همدارنګه د تولید په موخو هم، ترڅو د خپل هیواد په اقتصادي پراختیا کې ونډه واخلو." هغه زیاته کړه: "دا په افغانستان کې لومړۍ کمپاین دی چې د پوهنتونونو زیات شمیر زده کوونکي او ځوانان په هغې کې برخه اخلي."

د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزیر ښاغلی احمد عثمانی ټینګار وکړ: "زمونږ هیواد په وارداتی برښنا پورې تړلې دی او مونږ هغو هیواد ته چې ورځنې برښنا پیرو، زیاتې پیسې ورکوو. راځی د انرژۍ د لا اغیزمنې کارونې له لارې خپل مالي منابع سپما کړو او کوښښ وکړو چې د موجوده منابعو لکه لمر، اوبه او باد څخه ګټه واخلو او په دې توګه نه یوازې د انرژۍ پیرودونکي بلکه تولید کوونکي شو."

په نوموړې اونۍ کې به بیلابیل څیزونه لکه پریزنټیشنونه، ډله ایزې خبرې اترې او تخنیکي ورکشاپونه خلکو ته وړاندې شي. د دې اونۍ په ترڅ کې به د نوې کیدونکي انرژۍ راز راز تکنولوژۍ هم خلکو ته د نندارې د پاره وړاندې شي. په بیلابیلو غونډو کې به د نوې کیدونکي انرژۍ د پروژو د پلان جوړونې، تمویل او پراخولو او همدارازد عملي کړنلارو او د نوې کیدونکي انرژۍ د ارزښت په باب د پوهاوي د کچې د لوړولو په اړه معلومات وړاندې شي. د دې کمپیان موخه د افغانستان خلک او همدارنګه سیاستوال او د خصوصي سکتور استازي دي.

په دې وروستیو کې، افغان حکومت د انرژۍ سکتور د پراختیا یو پنځه کلن پلان پیل کړ چې په پام کې ده د نوې کیدونکې انرژۍ د سرچینو څخه ۵۰۰ میګاواټه انرژي تولید کړي. که څه هم افغانستان د نوې کیدونکي انرژۍ د پاره پراخ پوتنسیال لري، خو زیات شمیر افغانان اوس مهال برښنا ته لارسی نلري. د افغانستان د نوموړي پوتنسیال په کارولو سره به په راتلونکي کې د ټولو افغانانو د پاره د برښنا د تامینولو په لاره کې مرسته وشي.

د افغانستان د چاپیریال دملي اداري مشر ښاغلي مصطفی ظاهر داسې څرګنده ونه وکړه: "د نوی کیدونکي سرچینو څخه د پاکې انرژۍ کارول به زمونږ هیواد او سیاره وساتي. دغه کمپاین کیدای شي یو ډیر ښه فرصت وي چې خپل هیوادوال، پالیسي جوړونکي، سوداګر او د ټولنو استازي دیته وهڅوو چې د لمر او نورو نوی کیدونکو سرچینو لکه اوبه او باد څخه د برښنا د منابعو په توګه کار واخلي."

د انرژۍ او اوبو وزیر ښاغلی علی احمد عثمانی د نوموړې اونۍ کوربه دې زیات شمیر افغاني وزیران، لوړپوړي سیاستوال او کارپوهان لکه اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله، د پوهنې وزیره فریده مومند، او ډیر نور شخصیتونه به د دې اونۍ د پرانستلو په مراسمو کې ګډون وکړي. سربیره پردې، تمه کیږي چې د افغانستان د مدني ټولنې استازي او همدار از نړیوال سازمانونه، سوداګر او عالمان به د ۲۰۱۷ کال د افغانستان د پایښتونکې انرژۍ د اونۍ په بهیر کې سره وګوري.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de

د افغانستان سره د آلمان همکاری
مطبوعاتی خبر

اجندا:

د غویی ۱۸	لویه پرانیستونکي غونډه: د افغانستان د پاینبتونکي انرژۍ، اوبو او د ملي برښنا د انجینرۍ کنفرانس
د غویی ۱۹	د عالمانو او ځوانانو رول: د نوې کیدونکي انرژۍ او د انرژۍ د اغیزمنتیا په منلو او ترویجولو کې د عالمانو او ځوانانو رول
د غویی ۲۰	د ښځو رول: د نوې کیدونکي انرژۍ په منلو ، ترویجولو او کارولو کې د ښځو رول
د غویی ۲۱	د حکومت او دولت رول: د افغانستان د انرژۍ د سکتور په پراختیا کې دولتي او سیاسی دندې

د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH اداره د افغانستان سره د المان د همکاری، د یوې برخې په توګه د افغانستان د انرژۍ او اوبو د وزارت څخه په افغانستان کې د نوې کیدونکي انرژۍ، د ترویج په لاره کې د ۲۰۰۳ کال راهیسې ملاتړ کړیدی. نوموړې اداره چې د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا (BMZ) د وزارت له خوا تمویلیږي د افغانستان د انرژۍ، اوبو د وزارت د نهادي او سازماني پراختیا د پاره د پالیسیو مشورتي خدمتونه او تخنیکي ملاتړ برابروي.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de